# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے

# د سمندر نه راویستلے شوے شهزاده



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



وزیر یوسف مړ شوے وو.
ټول مصر د هغهٔ خاندان سره په
دې تکلیف کښې شریک وو.
خدائ پاک دا ملک د یوسف
عبرانی په وسیله
بچ کړو. هغه یو
ډیر هوښیار
او ښه مشر
وو. اوس هغه
مړ شوے دے.




موسي ځلورو طرف ته وکتل
چې څوک خو هغه ته ګوري نه
د غلامانو ظالم سردار باندې
حمله وکړه. او په جنګ جنګ
کښې موسی مصري
ووژلو. او
موسی هغه
زر تر زره
دفن کړو.
3


درې سوه کالونه تېر شوي وو. او د یوسف د خلقو، عبرانیانو
نه په مصر کښې یو ډېر طاقتور نسل جوړ شوے وو. نوے
فرعون د عبرانیانو نه ډېر زیات پرېشانه وو چې هسې نه چې
دوئ زما خلاف شي.
نو په
دې
وجه
باندې
هغۀ هغوئ ټول
خپل غلامان
جوړ کړل.
4


فرعون به عبرانیانو سره ډېر سخته ساتله او ظلم به یې پرې
کولو. هغۀ هغوئ دې ته مجبوره کړل چې د هغۀ د پاره لوئ
لوئ ښارونه جوړ کړي. خو د فرعون سختئ په هغوئ باندې
هیڅ اثر ونۀ کړو. او
عبرانیان غلام به په تعداد
کښې زیاتېدل.
5


یوه ورځ فرعون ډېر په سختئ سره دا حکم جاري کړو.
چې د عبرانیانو پیدا شوي هلکان ماشومان په دریائے نیل
کښې وغورزوئ. ظالم فرعون دا پخه اراده کړې وه چې د
عبرانیانو تعداد کم کړي. تر
دې پورې چې هغوئ
واړۀ ماشومان هم
ووژل.
6


مونږ څۀ کولے شو؟ یو خاندان حېران وو. هغوئ دا فېصله
وکړه چې هغوئ خپل ماشوم په دریائے کښې پرېږدي.
خو هغه به په یوه داسې ټوکرۍ کښې وي چې هغه د اوبو
نه محفوظ وي.
7


قیمتي سامان سره هغه د کشتئ په شان ټوکرۍ کښې
په ترونی کښې انغښتے وو. هغه وړوکی
ماشوم سره څۀ
وشول؟
8


په څهٔ فاصله کښې د هغه ماشوم خور هغه قيمتی ټوکرۍ
رو رو په تلو وليده.
9


ناڅاپه د فرعون لور او د هغې نوکره درياب ته د لمبلو د
پاره راغلې. ټوکرۍ په يوې طريقې سره هم
پټېدے نهٔ شوه. کېدے چې هغوئ د ټوکرۍ
ليدو نه بغير د هغه ځائ نه لاړې شی.
10


اوه! يوه ټکرۍ ده. هلته، په لوخو
کښې. زهٔ غواړم چې زهٔ وګورم
چې په دې کښې دننه څهٔ دی. د
فرعون لور خپل نوکر ته ووئيل
چې ورشه او دا ټوکرۍ ما خواته
راوړه. چې کله هغې ټوکرۍ
کولاو کړه. نو ماشوم ژړا
شروع کړه. شهزادګۍ
چغې کړې چې دا
عبرانے ماشوم دے.
11


تهٔ ډېر ښکلے ماشوم يې. د فرعون لور هغه ماشوم سره په
مصرۍ ژبه کښې خبرې وکړې لکه څنګه چې يو سړے يا
ښځه ماشومانو سره کوی.
12


خدائ پاک ضرور د دې ماشوم خور له پوهه ورکړې
وه. هغه د فرعون لور خواته په منډه راغله. او هغې ته
يې ووئيل چې آيا زهٔ د دې ماشوم د خيال ساتلو د پاره يوه
عبرانۍ ښځه وګورم؟ جواب وو، آو ټيک ده
هم داسې وکړه. تاسو څهٔ سوچ کوئ
چې هغه جينۍ چې په
منډه لاړه نو هغه
به ځان سره
واپس څوک
راولی؟
13


مورا! زر راشه، زر راشه! کېدے شی چې جينۍ سره
دومره وخت نهٔ وو چې هغې په تفصيل سره خبرې کړې
وې. او هغوئ دواړه
هلته د واپس تلو د
پاره په منده لاړې.
14

واپس دریاب ته، د فرعون لور هغه ماشوم د ټوکرۍ نه بهر راوویستلو هغه ښځې له يې ورکړو او ورته يې ووئيل چې، زما د پاره دې ماشوم له پئ ورکوه.



15

زۀ به تا له د دې په بدله کښې پيسې درکوم. او دې ماشوم ته به موسی وئيلی شی. په مصرئ ژبه کښې د موسی مطلب د اوبو نه راويستلے شوے.



16

او داسې موسی خپل مور پلار سره واپس کور ته لاړو. د موسی مور او پلار هغۀ د خدائ پاک او د عبرانيانو د مينې تعليم ورکړو. او ډېر زر به د فرعون لور سره په محل کښې وی. خدائ پاک چا چې د موسی ماشوم ژوند بچ کړو. او هغۀ د هغۀ مستقبل د پاره يوه ډېره عظيمه منصوبه لرله.



17

د سمندر نه راويستلے شوے شهزاده

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

هجرت ۲

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

18

ختم شو

9 60

19

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زۀ ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲

20